د معلوماتي ټکنالوژۍ د لوی آمریت د سویچ او سرور خونې لپاره د پارټېشن جوړونې پروژې لپاره

# داوطلبی ته بلنه

## د پروژ ارتباطي شمېره : DAB/1401/NCB/W01

## د بودیجې ډول: عملیاتي عادي

1. د افغانستان بانک (مرکزي بانک) په پام کې لري څو د 1401 مالي کال لپاره د خپلو تخصیص شویو پیسو یوه برخه د معلوماتي ټکنالوژۍ د لوی آمریت د سویچ او سرور خونې د پارټېشن د جوړولو د پروژې لپاره د داخلي پرانیستي دواطلبی د (DAB/1401/NCB/W01) تشخیصه شمېرې له لارې په لګښت ورسوي.
2. د تدارکاتو لوی آمریت د افغانستان بانک په استازیتوب ټولو لېواله شرکتونو ته بلنه ورکوي، څو خپل د دواطلبی سندونه په ټړلي پاکټ کې وسپاري.
3. د ټرون موده ۶۵ورځې ده.
4. داوطلب د پرانېستي رقابت د میتود پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قوانینو کې ترې یادونه شوې، عمل کوي.
5. د داوطلبی سندونه په دري ژبه د افغانستان بانک له انترنیتي ویب پاڼې څخه تر لاسه کولای شئ او انټرنېټ ته د نه لاسرسی په صورت کې مینه وال کولای شي د دواطلبی سندونه له لاندې پتې څخه په فلش یا سي ډي کې تر لاسه کړي.
6. آفرونه باید لاندې پتې ته وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې آفر د برېښنالیک له لارې نه منل کېږي او همدارنګه له ټاکلې مودې څخه وروسته هم د اعتبار وړ نه ده. د یادونې وړ ده چې افرونه د داوطلبانو یا د هغو د استازو په حضور کې په ۱۴۰۱/۰۴/۱۱ نېټه، د شنبې په ورځ له غرمې مخکې په لسو ۱۰:۰۰ بجو پرانېستل کېږي.

| شمېر | د جنس توضیحات | د آفر تضمین په افغانی یا په نورو اسعارو چې د تبادلې وړ وي | د آفر دتضمین د اعتبار موده |
|---|---|---|---|
| ۱ | د معلوماتي ټکنالوژۍ د لوی آمریت د سویچ او سرور خونې لپاره د پارټېشن جوړول. | ۲۸،۰۰۰ افغانی ( اته ویشت زره افغانی) | د ۱۴۰۱کال د چنګاښ له ۱۱ نېټې څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې. |

7. ټول آفرونه باید له تضمین سره چې کچه یې پورته یاد شوې ده، د بانکي ضمانت (بانکي ګرنټي) یا د نغدو پیسو په بڼه تسلیم شي.

- ✓ د آفر د تضمین لپاره باید بانکي ضمانت (بانک ګرنټي) په اصلي نسخه کې وسپارل شي او هېڅ ډول فوټوکاپي یا سکن شوې کاپی د اعتبار وړ نه ده.

د آفر د تأمین بانکي ضمانت (بانک ګرنټي) د مودې اعتبار باید د آفر داعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې زیات وي یعنې د آفرونو د سپارلو له نېټې څخه وروسته تر ۱۱۸ ورځو پورې(۱۴۰۱ کال د چنګاښ د میاشتې له ۱۱ نېټې څخه لږ تر لږه۱۱۸ ورځې وروسته ) د اعتبار وړ دی.

8. د شرایطو وړ والی لاندې موارد رانغاړي:

د تدارکاتو د ملي اداري د NPA/PPD/C22/1397 ګڼې متحدالمال پربنسټ، د پنځو وروستیو کلونو په موده کې د دواطلب لخوا د اجراء شویو ودانیزو چارو د دوو کلونو د معاملې لږ تر لږه کچه.

د تدارکاتو لوی آمریت

د ودانیزو چارو مدیریت

1

د تدارکاتو د قانون د اتمې مادې او د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ ګڼې حکم پر بنسټ د یادې پروژې لپاره د ورته کاري تجربې معیار د کوچنیو تشبثاتو د هڅونې او ودې اخیستنې په موخه د اجراء وړ نه دی.

د تدارکاتو د ملي اداري د NPA/PPD/C22/1397 ګڼي متحدالمال پربنسټ، د پنځو وروستیو کلونو په موده کې د دواطلب لخوا د اجراء شویو ودانیزو چارو د دوو کلونو د معاملېلړ تر لږه کچه.

د تدارکاتو د قانون د اتمې مادې او د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ ګڼې حکم پر بنسټ د یادې پروژې لپاره د ورته کاري تجربې معیار د کوچنیو تشبثاتو د هڅونې او ودې اخیستنې په موخه د اجراء وړ نه دی.

د ګټوونکي داوطلب قراردادي د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د نورو ژمنو خالصه کچه **175,000- یو سلو پنځه اویا زره افغانۍ ده.**

۹. داوطلب باید د اجرایي مکلفیتونو د شرایطو په درلودلو سره د کاري پرسونل ولري.

۱۰. داوطلب باید لاندې کاري وسایل ولري:

| شمېره | د توکي ډول | واحد | کچه |
|---|---|---|---|
| 1 | ماشین آلات | پایه | د پروژې د اړتیا په اندازه |
| 2 | وسایط | عراده | د پروژې د اړتیا په اندازه |
| 3 | امنیتي تجهیزات | جوره/عدد | د پروژې د اړتیا په اندازه |
| 4 | کاري افزارونه | پایه/عدد | د پروژې د اړتیا په اندازه |
| 5 | فلزي خوازې | پایه/عدد | د پروژې د اړتیا په اندازه |

دواطلب شرکتونه او مینه وال کولای شي د داوطلبی سندونه له لاندې پتې او ویبپاڼې څخه ترلاسه کړي.

د افغانستان بانک، د تدارکاتو لوی آمریت، دریم پوړ، د پښتونستان څلور لارې ابن سینا واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 0093202103940

بریښنایي پته:

moneer.akbari@dab.gov.af

ویب پاڼه:www.dab.gov.af